# د کیفیت د مدیریت سېستم د سټنډرډونو د تدوین تخنیکي کمېټه TC-2

## تاریخچه

د کیفیت د مدیریت سېستم د سټنډرډونو د تدوین کمېټه په (۱۳۹۲هـ ش) کال د سټنډرډونو د تدوین او ساختماني ملي کوډونو په چوکاټ کې ایجاد او په (۱۳۹۳هـ ش) کال کې یې د لومړنۍ غونډې په جوړولو سره په فعالیت پیل وکړ. دا کمېټه توانېدلې ده چې (۳۰) سټنډرډونه تدوین او نهایي کړي چې د سټنډرډ عالي شورا تر تصویب وروسته د ملي سټنډرډونو په توګه ومنل شول.

## ټولیز فعالیتونه

ـ د سټنډرډ عالي شورا له لوري د (۲۸) ملي سټنډرډونو تصویب او نهایي کول

ـ د کیفیت د مدیریت سېستم د (۸) سټنډرډونو تدوین او نهایي کول او د سټنډرډ عالي شورا ته د وړاندې کولو په موخه د هغو چمتو کول

## په کمېټه کې مرستندویه بنسټونه

- خصوصي سکټور د کمېټې د رییس په توګه
- کابل پوهنتون د غړي په توګه
- اقتصاد وزارت د غړي په توګه
- د اوبو او انرژۍ وزارت د غړي په توګه
- د عامې روغتیا وزارت د غړي په توګه
- د علومو اکاډمي د غړي په توګه
- د سټنډرډ ملي اداره د سکرټر په توګه

### ټولیزې دندې

- د کیفیت د مدیریت سکټور د اړیتا وړ سټنډرډونو ته لومړیتوب ورکول
- د کمېټې د کاري پلان جوړول
- په کاري پلان کې د شاملو سټنډرډونو پر مسوده باندې بحث او د نظر وړاندې کول
- پر ملي سټنډرډونو نظر اچول
- تر کار لاندې سټنډرډونو د مسودې بشپړوالی او نهایي کول
- د سټنډرډ د مسودې د تدوین لپاره د موادو د راټولولو او اقتباس په موخه د سرچینو چمتووالی